# هېواد
ورځپاڼه

مسئولین :

## ډېر ژر به استانبول او انقرې ته هم د افغان حکومت اتشې وا ستول شي

د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت وايي: د افغان حکومت د کډوالو اتشې د ايران او پاکستان په بېلابېلو ښارونو کې د کډوالو چارو د تنظيم لپاره فعاليت کوي. د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت مسلکي مرستيال عبدالرحمن راشد وايي، چې ډېر ژر به د ترکيې استانبول او انقرې ښارونو ته هم د افغان حکومت اتشې واستول شي. عبدالرحمن راشد دغه راز زياتوي، چې د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت يوه پلاوي د ترکيې د کډوالۍ اداري له رئيس سره په کتنه کې له دې هيواده د افغان کډوالو د راستنېدو په تړاو خبرې کړې دي. نوموړي دغه راز په نږدې راتلونکې کې افغانستان ته د ترکيې د کډوالۍ اداري د رئيس د سفر خبر ورکوي.

مؤسس: عبدالرووف بېنوا | د تاسيس کال ۱۳۲۸ لمريز | سه‌شنبه دربيع الثاني ۱۰ مه ۱۴۴۵ ق کال | د لړم ۲ يمه ۱۴۰۲ ل کال | داکتوبر ۲۴ مه ۲۰۲۳ م کال | خصوصي ګڼه ۱۵۷ مه | پرله‌پسې ګڼه ۲۴۷ مه ،اتمه‌دوره

خليفه سراج الدين حقاني :

## د خبرو له لارې د مسائلو حل او بې پرېتوب د ملګرو ملتونو مسئوليت دی

دکورنيوچاروووزارت رپرست خليفه سراج الدين حقاني د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي له ځانګړي همغږي کوونکي فريدون سينيرلي اوغلو او مل پلاوي سره په خپل کاري دفتر کې وکتل. سينيرلي اوغلو په دې کتنه کې وويل، چې د بېلابېلو هيوادونو له چارواکو سره د ليدنو پر مهال دې پايلې ته رسېدلي، چې هېڅ هيواد په افغانستان کې د جګړې غوښتونکی او ملاتړی نه دی. نوموړي همدارنګه د شته ستونزو او خنډونو حللاره د ښځينه زده کوونکو د زده کړو په وړاندې د محدوديت له منځه وړل او د نورو هيوادونو په وړاندې د افغانستان له خاورې د ګواښ نه رامنځته کېدل ياد کړل. ده په افغانستان کې د قانون تطبيق، داوم امنيت د کرنيزو چارو د ودې او بيا رغونې په برخه کې د اسلامي امارت فعاليتونه او لاسته راوړنې وستايلې.د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازي همدارنګه وويل ، چې يوناما له نړيوالو سره د افغانستان د اړيکو پياوړتيا، بيا رغونې او له نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې بشپړې همکارۍ ته چمتو او لېواله ده. ۵مخ



د کابل والي :

## ملګري ملتونه دې په پلازمېنه کې د اوبو د کمښت په له منځه وړلو کې همکاري وکړي

په کابل کې د اسلامي امارت سرپرست والي محمد قاسم خالد په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندوي پلاوي (يوناما) د مرکزي زون د دفتر له مشر انيت ليت سره په کتنه کې وويل ،چې ملګري ملتونه بايد د اوبو د کمښت د له منځه وړلو لپاره همکاري وکړي.د کابل ولايت د مقام مطبوعاتي دفتر پرون په يوه خبرپاڼه کې ويلي، چې محمد قاسم خالد په کابل ښار کې د پاکو اوبو د کمښت ستونزې ته په اشارې سره وويل: د پلازمېنې اوسېدونکي د پاکو اوبو د نشتوالي له کړکېچ سره مخ دي.د کابل والي له يوناما څخه وغوښتل ،چې په پلازمينه ۵مخ



## د اوبو او انرژۍ سرپرست وزير د تخار ولايت د برښنا له رياست څخه ليدنه وکړه

د اوبو او انرژۍ سرپرست وزير الحاج ملا عبداللطيف منصور په داسې حال کې چې د يو شمېر سيندېزو حوزو رئيسانو يې ملتيا کوله، د تخار ولايت د برښنا له رياست څخه ليدنه وکړه. په ورته مهال، د ياد رياست مسئولينو او کارمندانو د اوبو او انرژۍ د سرپرست وزير له ورتګ څخه خوښي څرګنده ۵مخ



## ډنډپټان کې پاکستان ته د تلونکو ناروغانو لپاره روغتون جوړ شوی

د پکتيا ولايتي مسئولين وايي، چې د ياد ولايت په ډنډ پټان ولسوالۍ کې ډيورنډ فرضي کرښې ته څېرمه د ۱۰۰ زره امريکايي ډالرو په لګښت د بېړنيو ناروغانو د درملنې په موخه يو روغتون جوړ او ګټې اخيستنې ته وسپارل شو.د پکتيا مرستيال والي شيخ انعام الله صلاح الدين وويل، چې ياد روغتون په يونيم جريب ځمکه کې د ترکيې هيواد د ندا الخير ټولنې په مالي ملاتړ جوړ شوی، چې بېړنۍ خونې، لابراتوار، درملتون او د جومات ترڅنګ د ښځينه وو لپاره انتظار خونې او نورې آسانتياوې هم لري.

ده زياته کړه چې په دغه روغتون کې به د هغو بېړنيو ناروغانو لومړني درملنه کېږي ، چې غواړي د پټان ولسوالۍ د خرلاچي بندر له لارې پاکستان ته واوړي. پر دې لاره تلونکي مسافر او ناروغان د دې روغتون پر فعالېدو خوښي څرګندوي او وايي، چې په دې سره به د مسافرو او بېړنيو ناروغانو لپاره ګڼې اسانتياوې رامنځته او ډېرې ستونزې به يې حل شي.چارواکو د دې روغتون روغتيايي پرسونل او مسئولينو څخه غوښتنه کړې، چې د ناروغانو ستونزو ته جدي رسېدنه وکړي او د مسافرو او ناروغانو لپاره په ياده سرحدي سيمه کې لا نورې اسانتياوې برابرې کړي.



## د هرات زنده جان ولسوالۍ کې ښارګوټی جوړېږي

د هرات په زنده جان ولسوالۍ کې د ۳۵ کورونو دلرونکي يو ښارګوټي د بنسټ ډبره پرون د ملکي او نظامي چارواکو، د هرات د زلزله ځپلو د ځانګړي کمېسيون د وياند او د استخباراتو د عمومي رياست د مرستيال له خوا کېښودل شوه.دغه ښارګوټي د هرات ولايت د زنده جان ولسوالۍ په ناوک کلي کې د استخباراتو د عمومي رياست د کارکوونکو په مالي مرسته جوړېږي ، چې چارې به يې د ۴۵ ورځو په موده کې بشپړې شي.چارواکي وايي : په پام کې ده چې دغه کورونه د ثبت او سروې له مخې اغېزمنو خلکو ته ووېشل شي.

## په يوولسو ولايتونو کې د پوليو ضد واکسين کمپاين پيل شو

د عامې روغتيا وزارت مسئولين وايي چې پرون يې د هيواد په يوولسو ولايتونو کې ماشومانو ته د پوليو يا ګوزڼ ضد واکسين کمپاين پيل کړی دی.د عامې روغتيا وزارت وياند شرافت زمان وايي، چې دغه کمپاين کابل، نورستان، کاپيسا، پروان، خوست، پکتيا، پکتيکا، تخار، کندز، بغلان او غزني ولايتونو کې پيل شوی، چې تر راتلونکې پنجشنبه به دوام وکړي.ده زياته کړه ،چې له تېرو درېوو ورځو راهيسې ننګرهار، لغمان او کونړ ولايتونو کې هم د پوليو ضد واکسين کمپاين پيل شوی، چې په ټوليزه توګه به ۱۴ ولايتونو کې تر پنځه کلنۍ کم‌عمره شپږ اعشاريه درې ميليونه ماشومانو ته واکسين ورکړل شي.دی وايي: (( په يوولسو ولايتونو کې د پوليو ضد واکسين کمپاين پيل شو چې البته په عموم کې دغه کمپاين ۱۴ ولايتونو کې پلي کېږي چې کونړ، ننګرهار او لغمان کې د اکتوبر په ۲۱ مه پيل شوي او شپږ اعشاريه پنځه ديرش ميليونه ماشومان به واکسين شي.))د عامې روغتيا وزارت مسئولين له هيوادوالو غواړي ،چې د واکسين د تطبيق په برخه کې واکسيناتورانو سره همکاري وکړي، څو ماشومان يې پر دغې ناروغۍ اخته نه‌شي. ۵مخ



## ميدان وردګو کې ۳۳ زره تنو ته کاري زمينه برابره شوه

د ميدان وردګو د اقتصاد رياست سيمه ييز چارواکي وايي، په دې ولايت کې ۲۴ مرستندوي بنسټونه فعاليت کوي، چې ۳۳ زره کسانو ته يې د کار زمينه برابره کړې ده.د ميدان وردګو ولايت د اقتصاد رئيس مولوي عبدالحکيم حميد وويل: په ميدان وردګو کې د اقتصاد رياست تر چتر لاندې ۲۴ غيردولتي موسسې فعاليت کوي، چې ۳۳ زره کسانو ته يې د کار زمينه برابره کړې ده.ښاغلي حميد له مرستندويو بنسټونو وغوښتل، چې د کارکوونکو معاشونه د بانکي سيستم له لارې ورکړي او دغه راز خپل شپږ مياشتني او يوکلن پلان له دغه رياست سره شريک کړي. دا په داسې حال کې ده، چې د هيواد په بېلابېلو برخو کې کورنۍ او بهرنۍ مرستندويې موسسې فعاليت کوي؛ له همدې امله په زرګونو تنو ته د کار زمينه برابره شوې ده.

## مزارشريف ښار کې ۲۰ ټولګټې پروژې پلي کېږي

د مزارشريف ښاروالۍ مسئولين وايي، چې د مزارشريف ښار په بېلابېلو برخو کې د ۲۰ ټولګټو پروژو د پلي کېدو چارې پيل شوې دي.د مزارشريف ښاروال مولوي محمد کاظم طارق د روان کال په لړ کې د مزارشريف ښار په نهمه ناحيه کې د يو کيلومتر سړک د پخولو چارو د پيل پر مهال رسنيو ته وويل: د مزارشريف ښار په بېلابېلو برخو کې ۲۰ ټولګټې پروژې پلي شوې او د يو شمېر پروژو کار پيل شوی. ده زياته کړه: د مزارشريف ښار په نهمه ناحيه کې د څه دپاسه اته نيم ميليونه افغانيو په لګښت د يو کيلومتر سړک د کانکرېټ جوړولو کار پيل شوی او دغه پروژه له شلو پلان شويو پروژو څخه يوه ده.د مزارشريف ښاروال د ښاريانو د ستونزو د هوارې په برخه کې د دې رياست کړنو ته په اشارې سره وويل: د ښاريانو اړتياوې ډېرې دي او يوازې سږ کال مو د شلو پروژو په برخه ۵مخ



# له بېوزلو سره مرسته دنیوي او اخروي اجر او بدل لري

شاه محمود درویش

هغه کسان، چې له بېوزلي، بېکارۍ او نېستمنتوب څخه د خلکو د خلاصون په موخه، خپل مالونه د الله په لاره او د هغه د رضا د ترلاسه کولو په موخه صدقه کوي، لوی خدای جل جلاله هغوی ته اووه سوه برابره لا تر هغه زیات دنیوي او اخروي اجر او بدل ورکوي. لکه څرنګه چې الله تعالی فرمایي: دالبقره سورت، ۲۶۱ آیت

**ژباړه:** د هغو خلکو مثال، چې خپل مالونه د الله په لاره کې لګوي، داسې دی، لکه یوه دانه چې اووه وږي راشنه کړي بیا په هر وږي کې سل دانې او چاته چې الله غواړي نور هم زیاتوي او الله ښه پوه او د پراخۍ خښتن دی.

قرانکریم، په بل آیت کې، دغه الهي ستر بدل او اجرونو ته د رسیدو شرطونو ته اشاره کوي او فرمایي: دالبقره سورت، ۲۶۷ آیت

**ژباړه:** اې مؤمنانو! ۱ – له هغو پاکو مالونو لګښت وکړئ، چې تاسو ګټلي ۲ – او له هغو چې موږ له ځمکې درته را ایستلي دي او ۳ – یوازې هغو ناپاکو ته یې قصد مه کوئ، چې تاسو یې لګوئ، خو په خپله یې اخیستونکي نه یاست، مګر دا چې هسې سترګې پکې پټې کړئ ۴ – او پوه شئ، چې یقیناً الله ستایل شوی او له هر شي بې پروا دي. او په بل ځای کې فرمایي: دالبقره سورت، ۲۶۴ آیت

**ژباړه:** اې مؤمنانو! خپل خیراتونه مو په احسان بارولو او کړولو مه باطلوئ، لکه هغه کس، چې خپل مال خلکو ته د ځان ښودنې په خاطر لګوي، حال دا چې په الله او وروستي ورځ ایمان هم نه لري. نو مثال یې هغې تیږې ته ورته دی، چې څه خاوره ورباندې پرته وي، بیا یو سخت باران پرې وشي، چې پاکه ښویه یې پرېږدي له خپلو لاسته راوړنو به په هیڅ شي نه قادرېږي. او الله ظالم قوم ته هدایت نه کوي.

د مسلمان مسئولیت، یوازې د انسانانو په وړاندې د روغتیا او سلامتیا، امنیت او آرامتیا په برخه کې منحصر نه دی، بلکې خارویو ته هم شاملیږي. انسان باید پوه شي، چې د خارویو، نباتاتو، مرغیو او نورو نعمتونو په تړاو هم مسئولیت لري، چې الله تعالی د ځمکې پر مخ، دده تر واک او تصرف لاندې راوستي دي. د اسلام امر یوازې هغو خارویو ته د خوړو او اوبو برابرول نه دی، چې د انسان په واک کې دي، بلکې هغو ټولو خارویو او ژویو ته شاملیږي، چې ان په دښته او بیابانو کې ژوند کوي او د انسان تر واک لاندې نه دي. که انسان ددغو خارویو او ژویو په تړاو خپله دنده په سمه توګه سرته ونه رسوي، د خدای په وړاندې مسئولیت لري او تر پوښتنې لاندې راځي. پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:« یو سړی په دښته کې تګ کاوه او ډیر سخت تږی شوی و او له دې امله تر فشار لاندې و، یوې څا ته ښکته شو او اوبه یې ترې وڅښلې او بیرته ترې راووت، دغه مهال یې یو سپی ولید، چې له ډیر تږیتوب څخه یې خپله ژبه را ایستلې ده او پر خاورو یې موښي، سړي له ځانه سره وویل: دغه سپی زما په څیر ډیر سخت تږی دی. نو څا ته ښکته شو او خپل بوټونه یې له اوبوډک کړل او پر خپله خوله یې ټینګ ونیول او بیرته له څا څخه راووت او سپي ته یې اوبه ورکړې، الله ددغه سړي ستاینه وکړه او ګناهونه یې وروبښل». صحابه وو ترې پوښتنه وکړه: اې د خدای رسوله، آیا موږ د ژویو په تړاو هم له ثواب او اجر څخه برخمن کیږو؟ پیغمبر وفرمایل:

ژباړه: په هر ژوندي کبد کې اجر شته. یعنې له هر ژوندي موجود سره په نیکۍ سره اجر او بدل شته.

دخوراکي توکو په مصرفولو کې ناوړه عادتونه او دودونه: ناوړه دودونه او رواجونه، له زیانه ډکو ټولنیزو، اقتصادي او اخلاقي پدیدو څخه دي، چې دکورنۍ د جوړښت بنسټ کمزوری کوي او د ټولنې اجزاء علیلوي او د اسلامی امت کیان زیانمنوي. دغه ناوړه پدیده، د ایمان د کمزورتیا له امله، په ناسالم زړه کې ریښې کوي، له ناپوهۍ او ګمراهۍ څخه سرچینه اخلي او د هوا او هوس له پیروي څخه تغذیه کیږي. د اسلام سپیڅلی دین، لکه څرنګه چې د جاهلیت دورې له عقایدو، عادتونو او دودونو سره مبارزه کړې، له هغو ناوړه دودونو او عادتونو سره یې هم په ټولو حالتونو او په بیلابیلو دورو کې مقابله کړې، چې جاهلي سرچینه لري. اسلام خپلو پیروانو ته پنځلس پیړۍ مخکې خبرداری ورکړی، چې په خوراک او څښاک کې او له الهي بې ساورونعمتونو څخه په ګټه اخیستنه کې دې اسراف نه کوي، د اعتدال او منځلاریتوب لاره دې ځپله کړي او په خوراک، څښاک، او اغوستلو او د ژوندانه نورو اړتیاوو کې، د ناوړه عادتونو له پیروي څخه دې ډډه وکړي. د خوراکي توکو په لګولو کې فخر فروشي، ځان ښودل او اسراف، ډیر خوراک او نفس پرستۍ، د مسرفینو او نفساني غرایزو د پیروانو له ځانګړنو او له شیطاني غوښتنو څخه دي. دغه چارې، د انسان پر مخ، دشهوت او خود پرستۍ دروازې پرانیزي، زړه یې پر بیلابیلو افاتو او ناروغیو اخته کوي او هغه د یو خدای له عبادت او د نفس، کورنۍ او ټولنې په وړاندې د خپل مسئولیت له ترسره کولو څخه منع کوي. قرآنکریم په دې اړه فرمایي: ( دتوبه سورت ۷۱ آیت)

**ژباړه:** او مؤمنان او مؤمنانې یو د بل دوستان دي، دښیګڼې امر کوي له بدیو ایسارول کوي، لمونځونه ترسره کوي، زکات ورکوي او د الله او هغه د رسول اطاعت کوي. دا هغه کسان دي، چې الله به وربانده رحم وکړي بې شکه الله ځیرک برلاسی دي. د نا اړینو او ناسالمو خوړو په برابرولو او خوړلو او د ګران بیو جامو په اغوستلو کې اسراف او د مال ضایع کول، هغه چاره ده، چې د سلیم فطرت خلاف او د کورنۍ او دټولنې د بیوزلو په حق کې له ناپوهي ډک تصرف او یو ظالمانه او د نه بښلو کار او د ځمکې پرمخ، د فتنې او فساد، ظلم او بې عدالتۍ دودول دی. دغه چاره، پر عامو او خاصو د ناورین او الهي عذاب د نزول لامل ګرځي. الله جل جلاله فرمایي: دانتقال سورت ۲۵ آیت

اول هغې فتنې څخه ځان وساتئ، چې په ځانګړې توګه به یوازې ستاسو هغو خلکو ته نه رسي، چې ګناه یې کړې وي، او پوه شئ،چې الله د سخت عذاب ورکوونکی دي. د اسلام له نظره، د خوراکي توکو او جامو په برخه کې د مال ضایع کول او بې ځایه مصرفول، د اسراف له تر ټولو بدو ډولونو څخه دی؛ او په خپل مال کې د شخص اسراف حرام دی؛ ځکه کورنۍ او ټولنه د مال له ضیاع څخه زیانمنه کیږي. له ابو عیسی مغیرة بن شعبة رضی الله عنه څخه روایت شوی دی، چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل: متفق علیه ،خ ۱۴۷۷ مسلم ۱۷۱۵

**ژباړه:** الله تعالی، د مور ازارول، د واجباتو منع، د نورود مال غوښتنه او د نجونو ژوندي خښول، پر تاسې حرام کړی دی او د هرې خبرې چې اوریدل شوې وي، بیاویل او زیاته پوښتنه کول(د هغه څه په اړه، چې ګټه نه لري)، ستاسې له خوا په نامشروع چارو کې د مال ضایع کول او مصرفول، مکروه او ناوړه بللې ده. داسلامي فرهنګ او آدابو، د فطرت درعایتولو، د انسان د جسمي او روحي جوړښت، ساده ګي او اسانی او له تکلف او پیچلتیاوو څخه ډډه کولو پر بنسټ او له خود پرستۍ او اسراف پرته، شکل نیولی دی. ددغې ساده ګی او اعتدال خوښونې لازمه دا ده، چې د ژوندانه په بیلابیلو چارو کې دې اسانۍ ترسره شي او د لګښتونو کچه دې ټیټه شي او په هغو چارو کې، چې اقتصادي او اخلاقي وضعیت ته ګټه نه لري، د انرژۍ، وخت او مال د ضایع کیدو څخه، مخنیوی وشي. یو له هغو عمده مواردو څخه، چې کورنۍ د خوراکي توکو پر اسراف لاس پورې کوي، دواده، کوژدې، میلمستیاوو او ان د قرآن کریم د ختمونو محفلونه دي. په دغو محافلو کې، د منفي سیالي له مخې، د خوړوپه برابرولو کې دومره اسراف کوي، چې د چمتو شویو خوړو یوه پر څلورمه برخه، د میلمنو له خوا نه خوړل کیږي او پاتې ډوډۍ ټوله ضایع کیږي. نوایا په داسې یوه ټولنه کې، چې تر نیمایي زیات وګړي یې د بیوزلۍ ترکرښې لاندې ژوند کوي، دغه ډول اسراف اړین دی؟

په محفلونو کې د ډیر لګښت پایلې:

٥٥ خوښۍ او غم په محفولونو کې د اسراف او تبذیر د پایلو په تړاو په لاندې برخه کې لنډ بحث کوو:

*اقتصادي ناورین او د امیدوارۍ او شیدې ورکولو په دوره کې، بشپړې تغذیې اوروغتیایي خدمتونو ته د مور نه لاسرسی.

*پر خوارځواکي، جسمې، عقلي او روحي عقل پر کمزورتیا د ماشوم اخته کیدل.

* د ماشوم او تنکی ځوان ، جسمي او ذهني نیمګړې وده، د خپلو ماشومانو ښوونې او روزنې ته د مور او پلار نه رسیدنه.

*په مناسب عمر کې له واده څخه د ځوانانو بې برخه کیدل.

*د ځوانانو(هلک او نجلۍ) په ناهیلۍ اخته کیدل او ژر زړښت.

*ترټولو مهم، په ذلت او خوارۍ او الهي عذاب، د مسرفینو او فخر فروشانو اخته کیدل دی.

هو! زموږ په هیواد کې د فردي او ټولنیز ژوندانه په چارو کې، ناوړه عادتونه او دودونه واکمن دی. په ځانګړې توګه، د تغذیې په مصرفولو کې، پر یوه کلتور بدل شوی دی. دغه کلتور، د ټولنې د بیلابیلو قشرونو ترمنځ ورځ **۵مخ**



## سرلیکنه

# اسلامي امارت پر تعامل او اړیکو باور لري

افغان مؤمن او مېړني ملت د خپل تاریخ په لړکې بې دریغه اولا مثاله قربانۍ ورکړې چې نړۍ کې یې بېلګه نه تر سترګو کېږي، دغه قربانۍ یې د کوم هدف لپاره ورکړې؟ روښانه ده چې د افغانانو دغه تکالیف او قربانۍ د دې لپاره وې چې په افغانستان کې اسلامي نظام حاکم شي او موږ هم یو ځواکمن، آزاد او خپلواک حکومت ولرو. نړیوال استعماري او استکباري طاقتونه له موږ سره د اسلامي نظام په حاکمیت کې ستونزې لري او په مقابل کې یې خنډونه او ستونزې جوړوي، چې دا زموږ په کورنیو چارو کې ښکاره لاسوهنه ده او د هیڅ برداشت او منلو وړ نه ده، خو بیا هم د اسلامي امارت دریځ دا دی، چې له نړۍ سره پر غوره تعامل او د سیاسي او اقتصادي اړیکو پر پراختیا باور لري.

خو ددې معنا دا نه ده، چې اسلامي امارت دې د خپلو داخلي جوړښتونو په هکله د نړیوالې ټولنې هره مشروع او نامشروع غوښتنه او فرمایش ومني، بلکې معنا دا ده، چې اسلامي امارت له نړۍ سره په متقابل احترام پر ولاړو او داسې اړیکو باور لري چې د افغان ملت دیني او ملي ارزښتونه په کې ساتل شوي وي.

د اسلامي امارت مسئولینو ته پکار ده، چې خپل ولس په غېږکې ونیسي، د ملت سالمو او شرعي غوښتنو ته مثبت ځواب ووایي، د ملت لا ډېر حمایت ترلاسه کړي او په داسې مهارت له نړیوالو سره خپله بهرنۍ پالیسي جوړه کړي چې هم خپل اهداف خوندي وساتي او هم د خپل مسلمان او مجاهد ملت بېړۍ د نجات تر ساحله ورسوي. موږ نړۍ ته اړتیا لرو او نړۍ موږ ته اړتیا لري.

که له نړیوالو سره تعامل نه وي، موږ نشو کولی خپل تجارتي توکي نورو هیوادونو ته صادر کړو او همدارنګه موږ نشو کولی له نورو هیوادونو څخه واردات ولرو، نو په کار ده چې یوله بل سره تعامل وکړو ، خپلې اړیکې له نورو هیوادونو سره غښتلې کړو ، یو له بل سره په هره برخه کې راشه درشه ولرو او د زده کړو بهیر له پخوا لاپسې غښتلی او چټک کړو. داځکه چې وخت لکه سره زر دي.

باید زیار وباسو، نه ستړې کېدونکې هڅې وکړو او د خپل ګران هیواد د پرمختګ لپاره متې راونغاړو ترڅو په دې ترتیب خپل هیواد، د نړۍ له نورو پر مختللو هیوادونو سره د سیالۍ جوګه کړو.

# د مهاجرت لاملونه او انګیزې

پوهنیار محمد شریف احمدزی

مهاجرت یا کډه کول له یو ځای نه بل ځای ته د کار یا ژوند لپاره د خلکو تلل را تلل دي؛ په معمولي توګه خلک د نامساعدو شرایطو لکه فقر، ناروغي، سیاسي مسایل، د خوراکي توکو کموالي، طبیعي آفتونه، جنګ، بیکاري او د امنیت د کمښت له کبله مهاجرت کوي .په دې اساس مهاجرت یا کډه کولو ته د جذبولو لاملونه عبارت دي له: ښه روغتیایي امکانات، ښه زده کړه، د ډېرو پیسو لاس ته راوړل، د اوسیدنې ښه ځای او د ښو سیاسي آزادیو ترلاسه کول. مهاجرت یا کډه کول په نوي او مدرن مفهوم کې له یو هیواد یا ملت څخه بل هیواد یا ملت ته د خلکو تللو ته ویل کېږي چې دا خلک هلته د هغه ځای اصلي اوسیدونکي نه بلل کېږي؛ مهاجرت په ضمني توګه اوږدمهاله اقامت ته ویل کېږي، لنډمهاله توریستان او سیلانیان د مهاجر په توګه نه پیژندل کېږي.

د یادولو وړ ده چې مهاجرین او کډوال جزائي مسئولیت نه لري ځکه د مهاجرت اصلي موخه ښه ژوند ته لاسرسی دي چې دا یوه انساني او روا موخه ده؛ انګیزه یو فطري (دروني) امر دي، چې د یو شخص شوق او علاقه تمثیلوي نو کله چې په خپله خوښه یو شخص ځان د قاچاقبر په اختیار کې ورکوي نو ځکه نه شو کولای چې خپله مهاجر تر عدلي تعقیب لاندې ونیسو او یا هم هغه ته جزائي مسئولیت متوجه کړو

د مهاجرت او کډه کولو لپاره ډېري انګیزی شتون لري چې له هغې جملې څخه د څو بنسټیزو انګیزو یادونه کوو.

الف. د زده کړې لاملونه: نن ورځ ډېر خلک د زده کړو د ادامې او د خپلې پوهې د کچې لوړولو لپاره بل ځای ته مهاجرت کوي.

ب. اقتصادي لاملونه: بیکارۍ، د مناسبو مشغولتیاوو نه شتون، دکورنۍ د لګښتونو نه پوره کېدل او داسې ...

ج. ټولنیز لاملونه: د بیلابیلو سیمو د خلکو نه همغږی او د ټولنې د نفوس طبیعي زیاتوالی د دې ډول مهاجرت بنسټ دي. د بیلګې په توګه که چېرې د وطن په لومړني ټاټوبي کې، د ژوند لومړنی اسانتیاوې شتون ولري، څوک به په دې فکر کې نه شي چې خپل هېواد خوشې کړي او د غربت (مسافرت) سختېو کې ولوېږي.نوځکه کولای شو ووایو چې یو شخص له لاندې لاملونو څخه اغېزمن کیږي چې په پایله کې مهاجرت ته انګیزه پیدا کړي؛ په هېواد کې سیاسي بې ثباتي یا سیاسي انګېزه، دیني او مذهبي مسایل، د لومړنیو اړتیاوو د له منځه وړو لپاره پېسو ته اړتیا، د مجلل او پرمختللی ژوند لرل او د کار موندل، په متبوع هېوادونو کې قومي، نژادي او ژبنی ستونزې، د واده د ډېرو لګښتونو او د مریضې د تداوي لپاره پیسو ته اړتیا، هغو آزادیو ته رسېدل چې له کورنې څخه لرې یې شونتیا وي او داسې نور...

سره له دې چې د خوځښت آزادي او کډه کول ډېر وخت د فردي حقوقو په نوم پیژندل کېږي، ولې دا آزادي او کډه کول د یو هېواد او ملت د پولو په د ننه کې ده؛ سربیره پر دې دا آزادي ډېره د هغه هېواد اتباعو پورې تړاو لري نورخلک په کې نه شاملېږي. نن ورځ هېڅ یو هېواد له خپلو پولو پرته د تګ راتګ او کډه کولو لپاره چاته بشپړه آزادي نه ورکوي او د ملګرو ملتونو د بشری حقوقو قوانین هم د بل هېواد پولو ته د ننوتلو اجازه نه ورکوي؛ د ملګرو ملتونو د بشر د حقونو د نړیوالی اعلامیې له ۱۳مې مادي سره سم اتباع باید د خپل هېواد پرېښودلو څخه منع شي؛ د جزاء کود د ۵۲۱ مې مادي د حکم په بنسټ د پیسو یا منفعت د ترلاسه کولو په منظور د مسافرت له سندو نو پرته یا د مسافرت په تزویر شویو سندونو سره هېواد ته د بهرني دولت د تبعه یا له تابعیت پرته شخص لپاره د ناقانونه وارديدو د زمینې برابرول یا له افغانستان څخه بل هېواد ته د هېواد د تبعه یا له تابعیت پرته شخص یا د بهرنې دولت تبعه ته د وتلو (خروج) لپاره د زمینې برابرول د مهاجرینو د قاچاق جرم پیژندل کېږي، مرتکب یی ددې کود له حکمونو سره سم مجازات کېږي؛ دا چې د مهاجرینو د قاچاق جرم یوه سازمان شوې کړنه ده نو له دې کبله له دې جرم سره د مبارزې لپاره لاندې موضوعاتو ته باید په کره ډول پاملرنه وشي.

الف) د مهاجرینو قاچاق د قربانیانو د یوې دقیقې احصائیې جوړول.

ب) د مهاجرینو قاچاق له جرم سره د مبارزې لپاره د ادارو او اړوندو څانګو تر منځ د فعالیت همغږي رامنځ ته کول.

ج) د مهاجرینو د قاچاق په اړه د سرحدي پولیسو په منځ کې د اطلاعاتو تبدیلول.

د) د مهاجرینو قاچاق د ټولو ډولونو پرضد د ګاونډیو هېوادونو هڅول.

هـ) د انسان قاچاقولو لپاره د ښځو او ماشومانو د اوسېدو او ساتنې د ځایونو تثبیتول.

و) د ترانسپورتي وسایطو دقیق کنترول.

ز) د مهاجرینو له قاچاق سره د مبارزې په موخه د ملي او نړیوالو همکاریو جلبول.

ح) د مجازو او غېرمجازو پولو کنټرول. ټولنیز مخنیوی، داطلاعاتو او فرهنګ، معارف او د حج او اوقافو وزارتونو په مرسته د ټولنې د پوهاوي د کچې لوړول. د خلکو د ملتیا جلبول په ځانګړي ډول دهېوادونو د پولو په اوږدو کې.

ط) په هوایي ډګرونو، پولو او ځمکنیو بندرونو کې د پاسپورټونو کنټرول؛ د قاچاق وړونکو ډلو په اړه د معلوماتو د تبادلې په برخه کې له انټرپول پولیسو سره اړیکي ساتل.د اهمیت وړ ده چې پوه شو څوک د انسان د قاچاق قرباني او څوک غیر قانوني مهاجر دی. په همدې ډول د یو ټولشموله او اغېزمن سیاست غوره کول د دې جرایمو او د مرتکبینو په اړه تر ډېرې کچې د دې اصطلاحګانو توپیر پورې تړاو لري.

رضایت:

د مهاجرینو قاچاق د قاچاق شویو کسانو په هوکړې او داوطلبانه توګه سرته رسېږي، سره له دې چې ډېر له خطر او توهین نه په ډکو شرایطو کې سرته رسېږي. په داسې حال کې چې د انسان په قاچاق کې رضایت شتون نه لري.

استثمار:د مهاجرینو قاچاق د موخې هېواد ته په رسېدو سره ختمېږي او وروسته له هغه ناوړه ګټه نه اخیستل کیږي. اما د هغو اشخاصو په پرتله چې د قاچاقبرانو تر واک لاندې وي، خپلواکې یې محدوده او مجبور دي چې بېلابېلو کارونو او چوپړتیاوو ته ځان ورکړي او له هغوی څخه ناوړه ګټه اخیستنه دوام لري.

نړیوالتوب:

د مهاجرینو قاچاق نړیوال دی، خو د انسان قاچاق کېدای شي د پولې دننه او یا نړیوال وي. **۵مخ**

## پوهه

ویس الرحمن نورمل

پوهه د پېژندنې یوه بڼه ده. دا اکثراً د حقایقو د پوهاوي یا د عملي مهارتونو په توګه پېژندل کېږي، له پوهې څخه تعریف په انسانانو کې متفاوت دي. هر انسان د خپل فکر په بڼه پوهه تعریف کوي.،خو په اصل کې پوهه په دوه ډوله ده. لومړي: هغه پوهه چې انسان ته ژوند کول ور زده کوي. دوهم: هغه پوهه ترڅو انسان وهڅوي چې ژوند جوړ کړي. ستاسو به پام شوي وي تاسو ته نږدې کسان ښایي د ماسټرۍ او دوکتورا په کچه تحصیلي اسناد ولري او تحصیل یې کړي وي،خو د دوی ژوند په نارمل او عادي حالت روان دي یا هم په ډېر پوهه لاس ته راوړو دا کرونده قلبه یا نرمه او اوبه کیږي ،خو نور کار موږ پورې اړه لري چې باید په دې کرونده کې څه وکرو او څومره حاصلات سره له یوې ښې ګټې ولرو. د پوهې په واسطه هغه کسان چې خلکو ته لټ او ګول بلل نن په خپل مسلک کې بریالی څېرې بلل کېږي همدغو بریالیو څېرو په ډېره کمه پوهه باندې د ځان لپار حتا د نوي نسل یا ښایي د یوې پیړۍ لپاره خدمت وکړ او ځان یې وځلولو.

زموږ ستر لارښود او رهبر محمد مصطفی (ص) ته الله متعال پوهه ورکړه او قرآن عظیم شان یې پرې



بد حالت کې دي .که هغه له مادي یا معنوي اړخه وي. له دې مالومېږي چې دوي د هغو کسانو له ډلې دي کوم چې پوهه لاس ته وروړې تر څو ژوند وکړي. تر ډېره بریده دا د بایلونکو کسانو په ډله کې حسابیږي. په اصل کې پوهه هغه ده ترڅو د یو انسان په کرکټر یا شخصیت کې د پام وړ مثبت تغیرونه راولي. زموږ ذهن د یوې کروندي په څېر دي .کله چې نازل کړ او په همغې پوهه یې لومړي په خپل ځان کې مثبت تغیر راوست او بیایې ژوند جوړ کړ .نن تر ټولو پرنفوسه شخص بلل کیږي .نن د هغه مبارک سیرت یو دي.

پوهه بحر دي ،هغه انسان پوه دي کله چې ووايي:

زه په کاپي اندازه پوه نه یم او لا د پوهې د لاس ته راوړلو هلې ځلې کوي.

# مصنوعي ځیرکتیا څومره پېژنئ؟ ایا پر خطرونو یې خبر یاست؟

ادریس سنګر

### مصنوعي ځیرکتیا

د مصنوعي ځیرکتیا ټکنالوژي نړۍ کې په چټکۍ د ودې او د معاصر ژوندانه بېلابېلو برخو کې د پراخو بدلونونو د رامنځته کولو په حال کې ده، خو له دغه پرمختګ سره ځینې اندېښنې هم ملې دي.متخصصان وېرېږي چې د مصنوعي ذکاوت ټکنالوژي به د خطرناکو اهدافو لپاره وکارول شي.بله لویه اندېښنه دا ده چې د دې ټکنالوژۍ په عامېدو سره به ګڼ خلک دندې او بوختیاوې له لاسه ورکړي.د مصنوعي ځیرکتیا ټکنالوژي څه ده او څنګه کار کوي؟مصنوعي ځیرکتیا کمپیوټر ته دا وړتیا وربښي چې انسانانو ته ورته فکر وکړي او غبرګون وښیي.د دې ټکنالوژۍ پر مټ کمپیوټرونو ته دا ورښوول کېږي چې تکرارېدونکې بېلګې تشخیص کړي، ستونزې حل کړي، وړاندوینه وکړای شي او ان له خپلو تېروتنو زده کړه وکړي.مصنوعي ځیرکتیا پر پراخې ډېټا سربېره پر الګوریتمونو متکي ده.الګوریتم د قوانینو نوملړ دی چې حتماً باید په ترتیب کې سم رعایت شي چې وکړای شي ورسپارل شوی کار یا ځانګړی امر پر ځای کړي.همدا ټکنالوژي ده چې سپاټیفای، یوټیوب او بي‌بي‌سي ای پلیر کې هغه پروګرامونه چې ښایي ستاسې د خوښې وړ وي، وړاندیز کړي.له فېسبوک او ټویټر سره هم مرسته کوي چې هر کاروونکي ته یې متناسب معلومات مخ ته راولي.مصنوعي ځیرکتیا همدا راز د امازن په څېر مجازي پلورونکو سره د پېرېدونکو د عادتونو په شننه او تحلیل کې مرسته کوي، چې وکړای شي د هغوی د پېرېدنو وړاندوینه وکړي.امازون له همدې ټکنالوژۍ پر خپله پاڼه د پېرېدونکو د جعلي تبصرو او مشورو پېژندلو کې هم کار اخلي.چټ جي‌بي‌ټي په ‹مای اې‌ای› او ‹سنپ‌چټ› کې څه رول لوبوي؟

چټ جي‌بي‌ټي او مای‌اې‌ای په سنپ‌چټ کې دوه پروګرامونه او کاریالونه دي چې پر مصنوعي ځیرکتیا سمبال دي او په دې وروستیو میاشتو کې یې ګڼ مینه وال موندلي دي.دا د هغه څه چې د مصنوعي هوښ مولد بلل کېږي، بېلګې دي.دا وړ مصنوعي ځیرکتیا په خورا زیاته اندازه ډېټا کې نمونې او جوړښتونه پلټې او د هغو په مرسته داسې نوې او ځانګړې محتوا تولیدوي چې که کله ورسره مخامخ شئ نو کټ مټ داسې ښکاري چې د انسان په لاس جوړه شوې ده.نور کمپیوټري پروګرامونه هم چې



چټبوټ یې بولي، پر مصنوعي ځیرکتیا سمبال دي او کولی شي له انسان سره د لیکلو پیغامونو له لارې خبرې وکړي.دغه کاریال یا اپلیکېشنونه پوښتنې ځوابولی، داستانونه ویلی او کمپیوټري کودونه لیکلی شي، خو دغه دواړه پروګرامونه وخت ناوخت د کاروونکو پوښتنو ته سم ځواب نه وايي.د مصنوعي ځیرکتیا ټکنالوژي ولې خطرناکه ګڼل کېږي؟

د متخصصانو خبرداری؛ مصنوعي ځیرکتیا د بشریت د نابودۍ لامل ګرځېدای شي

د مصنوعي ځیرکتیا ‹چټ باټونه› ښایي ژر تر انسانانو ډېر هوښیار شي .له چټ جي پي ټي؛ د بریتانیا د پوهنتونونو محصلانو د مقالو لیکلو کې ګټه اخیستې.په داسې حال کې چې د مصنوعي ځیرکتیا د کنټرول لپاره ډېر کم قوانین موجود دي، څانګیزپوهان خبرداری ورکوي چې د دې ټکنالوژۍ چټکه وده ښایي خطرناکې پایلې ولري. ځینو ان دا وړاندیز هم کړی چې په دې برخه کې نورې څېړنې باید ودرول شي.تېره مې میاشت کې جېفري هینټون چې د مصنوعي ځیرکتیا یو بنسټګر او د دې ټکنالوژۍ پلار بلل کېږي، له ګوګل شرکته استعفا وکړه.هغه خبرداری ورکړ چې چټبوټونه به ژر له انسانانو ډېر ځیرک او هوښیار شي.له دې لنډې موده وروسته په امریکا کې د مصنوعي ځیرکتیا د امنیت مرکز یوه بیانیه خپره کړه چې د ټکنالوژۍ د ډېر سلګونو څانګیزپوهانو تایید کړې وه.دوی خپله بیانیه کې ویلي و چې مصنوعي ځیرکتیا د جعلي اطلاعاتو تولید کې کارېدای او په دې توګه ټولنې له خطر سره مخامخولی شي.د دوی په اند له ټولو بده سناریو به دا وي چې ماشینونه او کمپیوټرونه دومره ځیرک شي چې د ټولو چارو کنټرول په خپل لاس کې واخلي او دا کار به د بشریت د محوه کېدو لامل وګرځي.له دې سره د اروپایي ټولنې د ټکنالوژۍ برخې مدیرې ماګارت وستاګر بي بي سي ته ویلي د مصنوعي ځیرکتیا وړتیاوې تبعیض ته په لمن وهلو او اړخ نیولو کې ډېرې اندېښنوونکې دي.آغلې وستاګر په ځانګړي ډول هغو پرېکړو او تصمیمونو کې د مصنوعي ځیرکتیا ټاکونکي رول ته اندېښمنه ده، چې کولی شي د خلکو د ژوندانه څرنګوالی او شرایط اغېزمن کړي.هغه همدا راز وایي : دا خطر هم جدي دی چې د مصنوعي ځیرکتیا ټکنالوژي ټاکنو کې د اغېزو لپاره وکارول شي، خو د ټکنالوژۍ برخې بل متخصص مارتا لین فاکس بیا وایي چې د مصنوعي ځیرکتیا له اړخه احتمالي خطرونه باید ونه پړسول شي یا بې شانه ستر ونه ښودل شي.هغه په دې تړاو د منطقي او عقلاني بحثونو غوښتنه کوي.دمګړۍ د مصنوعي ځیرکتیا لپاره کوم قوانین موجود دي؟

د نړۍ لروبر دولتونه پر دې کار کوي چې د مصنوعي ځیرکتیا د کارېدو څرنګوالي ته لارې چارې ومومي.په دې لړ کې اروپایي پارلمان تازه یوه قانوني اډانه جوړه او تصویب کړې.په دې اډانه کې به د مصنوعي ځیرکتیا د کارېدو او تنظیم لپاره مشخص او سخت قوانین رامنځته شي، چې شرکتونه یې باید رعایت کړي.مارګارت وستاګر وایي: دا دیوال به د هغو سترو خطرونو مخه ونیسي، چې ښایي د مصنوعي ځیرکتیا له اړخه رامنځته شي.ټاکل شوې ،چې دغه قوانین به سر له ۲۰۲۵ م کاله عملي شي. په دې توګه به د مصنوعي **۵مخ**

## محمدصادق عاکف:

# شریعت به د نړیوال مشروعیت په بیه معامله نه کړو

د ۲۰۲۱ م کال د اګست میاشتې په پنځلسمه نه یوازې په افغانستان کې سیاسي نظام ړنګ شو، بلکې اداري جوړښت او د حکومتولۍ ډول هم ورسره تغییر وکړ. له هغه وروسته چې د افغانستان اوسنی اسلامي نظام د واک واګې په لاس کې واخیستل، ځینې نوې اداري یې جوړې، خو ځینې پخوانۍ یې منحل کړې.

د دغو ادارو له ډلې یوه هم د امر بالمعروف او نهي عن‌المنکر وزارت دی، چې د ښځو چارو وزارت پر ځای جوړ شوی، خو بنسټیزه پوښتنه دا ده ، چې د دې وزارت د جوړېدو بنسټ څه دی او دغې ادارې ته څه اړتیا ده؟

د سلام‌وطندار خبریال نصیر کشاورز دې او دې ته ورته نورو پوښتنو ته د ځواب موندلو په موخه د امر بالمعروف او نهیي عن‌المنکر وزارت له ویاند محمدصادق عاکف سره مرکه کړې چې دادی خپرېږي:

**پوښتنه:** د لومړۍ پوښتنې په توګه، غواړم پوه شم چې د محتسب کېدو لپاره کومو شرایطو ته اړتیا ده؟

ځواب: د محتسب کېدو لپاره ۱۰ بنسټیز شرطونه په‌کار دي. هر څوک چې دغه ۱۰ ځانګړنې ولري، کولای شي چې د محتسب په توګه وټاکل شي. لومړي باید فاضل او عالم واوسي، له علومو او فنونو سره بلدتیا ولري او وړه او لویه دوره یې پای ته رسولې وي. د تفسیر دوره یې لوستې وي. بیا کولای شي ،چې محتسب شي. په قرآن‌کریم کې هم راغلي چې د خدای دین ته په سمه توګه بلنه ورکړئ. یعني څوک چې د خدای دین ته خلک رابلي، لومړي باید خپله معروف او منکر وپېژني، څو بیا نور خلک ورته راوبلي. کله چې یو کس خپله معروف او منکر ونه پېژني، څنګه کولای شي چې خلک راوبلي. محتسب باید د رابللو طریقه هم وپېژني. دا شرط دی ،چې د رابللو طریقه ورته معلومه وي. لقمان حکیم خپل زوی ته نصیحت کوي او وایي، چې خلک ښو ته راوبله او له بدو یې راوګرځوه، خو که له ستونزې سره مخ کېږې، باید زغم ولرې. له خلکو سره ښه او سم چلن وکړه او باید له خلکو سره ناسم او له تاوتریخوالي ډک چلن ونه کړي. محتسب باید متقي او پرهېزګار وي. د خپل کار او اوسېدو ځای کې بد نوم ونه لري. دا هغه تر ټولو ښې ځانګړنې دي چې یو محتسب یې باید ولري.

پوښتنه: ایا مهمه ده چې محتسب باید پخوا د اسلامي امارت غړي پاتې شوي وي؟

**ځواب:** نه! دا مهمه نه ده، بلکې د هغه تېره کاري مخینه کتل کېږي ،چې څه کاره و، پخوا یې څه مسئولیت درلود او څه ډول پېژندل کېږي. که مخکې اربکي (د ولسي پاڅون کوونکو غړی) وي او خلک یې وژلي وي، اوس خلک ښایي ووایي ،چې هغه پرون اربکی و او خلک یې وژل، د خلکو کورونه یې لوټل؛ خو اوس د محتسب په توګه ټاکل شوی دی.

**پوښتنه:** هغو دیني عالمانو چې د تېر نظام تر چتر لاندې ژوند کاوه، ایا د امر بالمعروف وزارت په چوکاټ کې شته؟

**ځواب:** په تېر نظام کې داسې کسان وو ،چې د اشغال په وړاندې یې مبارزه کوله، خو هغوی به ۱۶ کاله بندیانول او په اعدام به یې محکومول یا به یې له پنځو تر لسو کلونو بندي کول. که نن داسې یو کس محتسب کېږي، خلک به موږ ته څه وایي؟ دغه خلک (طالبان) به موږ ته وواېي چې ستاسو لپاره مو چاپې (نظامي عملیات) زغمل، بمبارونه مو زغمل او تاسو نن بیا هغه کس زموږ پر سر محتسب ټاکلی.

**پوښتنه:** ښاغلي عاکف، د امر بالمعروف وزارت په ۳۴ ولایتونو کې ریاستونه لري، که د دندې د پرله‌پسې‌والي له اړخه هم ورته وګورو، هغه ځینې حکمونه او قوانین چې په کابل کې پلي کېږي، په ولایتونو کې نه پلي کېږي او برعکس، د حکمونو په پلي کېدو کې دغه تضاد د څه ښکارندويي کوي؟

**ځواب:** نه! زه دا نه تائیدوم. پالیسي یوه پالیسي ده. په کابل یا ولایتونو کې د حکمونو پلي کېدل یوشان دي. په ځینو ولایتونو کې د امر بالمعروف اقامې او د منکر اذالې ته اړتیا ده، خو په ځینو نورو ولایتونو کې یو ډول منکر شته او هلته هماغه منکر اذاله کېږي. خو په ځینو ولایتونو کې نور منکرات شته او لا ډېر امر بالمعروف ته اړتیا لري. په ټوله کې ولایتونو ته په کتو د معروفاتو اقامه او د منکرانو اذاله اړتیا ته په کتو کېږي. په ځینو ولایتونو کې یې ځینې کسان په لوی لاس هغه ناسم چلن بولي. لکه په سرپل کې یوې پروژه یي رسنۍ یوه ویډیو خپره کړې وه ،چې یو پلار خپل زوی د دې لپاره چې ښوونځي ته نه‌دی تللی، وهي ډبوي او د امر بالمعروف محتسب هغوی خلاصوي، خو دغې رسنۍ دا ویډیو داسې خپره کړې وه، چې ګواکې دغه محتسب یو کراچي وان وهي ډبوي؛ په داسې حال کې چې هغسې نه وه. وروسته همدغه پلار له خپل زوی سره راغی او ویې ویل، ما خپل زوی ځکه واهه ډباوه چې ښوونځي ته نه ته.

**پوښتنه:** ښاغلي عاکف، ډېر شکایتونه شته چې د بېلګې په توګه خلک کولای شي په کابل کې خپله ږیره وخریي، خو د امر بالمعروف محتسبان په ولایتونو کې له هغو کسانو پوښتنې ګروېږنې کوي ،چې خپله ږیره خریي، ولې؟

**ځواب:** دا واقعیت نه لري. موږ ولایتونو ته هم تللي یو او کابل کې هم ګرځو. په ټولو ځایونو کې چلن یو ډول دي. د ږیرې په برخه کې سپارښتنه کېږي، خو هېڅوک نه شکنجه کېږي او نه هم وهل ډبول کېږي.

**پوښتنه:** د کورنیو چارو وزارت څه موده مخکې د امر بالمعروف وزارت پر کړنو نیوکه وکړه او ویې ویل، چې خلک د دغه وزارت له نوم څخه وېرېږي، په دې برخه کې ستاسو ځواب څه دی؟

**ځواب:** موږ د کورنیو چارو وزارت له سرپرست ښاغلي خلیفه صاحب سره غونډه لرله. هغه په یاده غونډه کې وویل ،چې یوه کس ورته ویلي، چې موږ ستاسو د نوم له کبله درنه ډارېدو، خو اوس چې تا سو ګورو، بل ډول انسان یاست. د امر بالمعروف وزارت هم داسې ور پېژندل شوی، چې خلک یې له نوم څخه وېرېږي، خو واقعیت بل ډول دی. مخکې به یې زموږ په نوم خلک وېرول، خو اوس وایي، چې له تاسو ګران او زړه‌خوږي نشته. موخه یې دا وه ،چې د دغه وزارت تصویر هم همداسې دی؛ خو په عمل کې ډېر سم چلن کوي. دا د شرعي او دین یوه برخه ده. دا د هر مسلمان دنده ده او ټول باید لارښوونې اعلان کړي، نه دا چې منکر شي. له بده مرغه ځینې رسنۍ دا خبرې ناسمې تفسیروي.

**پوښتنه:** کومه غونډه چې تېره اوونۍ د امر بالمعروف وزارت په نوښت جوړه شوې وه، د اوسني نظام د ملاتړ لپاره وه که د اسرائیلو په وړاندې د حماس جګړې د ملاتړ؟

**ځواب:** د تېرې اوونۍ غونډه د څو مهمو موضوعاتو او ځانګړو موخو لپاره جوړه شوې وه. لومړنۍ موضوع دا وه چې د اسلامي امارت د مسئولینو پام خپلو مسئولیتونو ته واړوي، لکه ښه چلن او له عامو خلکو سره د امر بالمعروف همکاري او له عامو خلکو سره د مسئولینو ښه چلن، له دولت سره د ملت همکاري، د امر بالمعروف له مسئولینو سره د عامو خلکو همکاري او له نظام سره د ملت همکاري، خو ځینو د اسرائیلو د ظلم په اړه خبرې وکړې؛ نو ځکه وویل شول ،چې ګواکې دا غونډه د حماس د ملاتړ لپاره ده؛ په داسې حال کې چې هر مسلمان حق لري ،چې د فلسطین له خلکو او د حماس له مجاهدینو سره همکاري وکړي او غږ یې اوچت کړي. اسرائیلیانو د غزې پر خلکو برښنا او اوبه بندې کړې، غزې ته د خوراکي توکو دننه کېدو ته اجازه نه ورکوي. دا د هر بشر حق دی چې خپل غږ اوچت کړي.

**پوښتنه:** ډېر هغه حکمونه او فرمانونه چې د امر بالمعروف له لوري صادرېږي، نه یوازې له کورنیو غبرګونونو سره مخامخ دي، بلکې په نړیواله کچه هم غبرګونونه را پاروي. ایا تاسې نه غواړئ چې اسلامي امارت په رسمیت وپېژندل شي؟

**ځواب:** موږ چې شل کاله مبارزه کړې او ټول‌ټال ۴۳ کاله په هیواد کې مبارزه شوې، د دې لپاره وه چې اسلامي نظام جوړ شي؛ هغه مبارزه چې د روسانو په وړاندې وشوه، هغه چې د شر او فساد په وړاندې وشوه او هغه مبارزه چې په تېرو شلو کلونو کې د اشغال په وړاندې وشوه؛ ټولې د دې لپاره وې ،چې اسلامي نظام واکمن او اسلامي حکمونه پلي شي. موږ اوس هم همدا غواړو چې اسلامي نظام ټینګ او حکمونه پلي شي. هر چېرته چې هر دین او مذهب واکمن دی، خپل قوانین او حکمونه عملي کوي. که د یهودیت قوانین په امریکا کې پلي کېږي، څوک څه نه وایي او که سیکولر او کمونیستي هیوادونه له خپل مذهب سره سم قوانین پلي کوي، هېڅوک خپل غږ نه اوچتوي؛ خو کله چې وغواړي په اسلامي هیوادونو کې اسلامي قوانین عملي کړي، د نورو غږ اوچتېږي. دا زموږ حق دی او زموږ خلک اسلامي نظام غواړي او زموږ وزارت دا دنده لري چې شریعت پلي کړي.

**پوښتنه:** ښاغلي عاکف، د افغانستان ټولنه په تېرو شلو کلونو کې په یو ډول له لوېدیځ سره جوړه راغلې وه، ایا په یو ځل کېدای شي چې دا ټولنه هغه لوري ته راوګرځوي ،چې د امر بالمعروف وزارت یې په پام کې لري؟

**ځواب:** تاسې فکر وکړئ چې له دوو کلونو راهیسې موږ په ډېرې نرمۍ او ورو ورو د خلکو را بلنې ته دوام ورکړې؛ تر اوسه مو نه څوک وهلي ډبولي او نه مو څوک په غیرشرعي ډول بندي کړي دي. له دې وروسته به هم له خلکو سره نرم مخې ته ولاړ شو. تاسو که د دغه وزارت خبرې اورېدلې وي چې محتسبانو ته یې ډېره ښه بېلګه وړاندې کړه او ویې ویل چې کله مشروبات بند شول، په درېیو پړاوونو کې بند شول. په لومړي پړاو کې وویل شول چې شراب خوړل زیان لري، خو ګټه نه. په دویم پړاو کې شراب د لمانځه پر مهال بند شول او په درېیم پړاو کې د شرابو کارول په بشپړ ډول حرام وګڼل شول. له دغو درېیو پړاوونو ښه پایله ترلاسه کولای شو چې هیواد مو شل کاله اشغال شوی و؛ ځکه موږ د خلکو پر ذهن او فکر کار کوو، پر هغوی فشار نه راوړو، خلک نه اړ باسو او له خلکو سره د زور چلن نه کوو. تل زموږ هڅه دا وه چې د خلکو پر فکر او ذهن کار وکړو.

پوښتنه: په دغو دوو کلونو کې، څومره خپلو غوښتنو ته رسېدلي یاست؟



# په خوست کې د امنيتي کامرو د لګولو چارې پيل شوې

په خوست کې د امنيه قوماندانۍ اړونـد د مخابراتو او ټيکنالوژۍ مديريت له لوري د ښار د امنيتي حالـت د ښـه والي او د جنايـي جرمونـو د مخنيـوي په هدف د امنيتي کامرو د لګولو چارې پيل شوې.

د خوسـت د امنيـه قوماندانۍ د امنيت آمر عبدالحليم حيدر ويلي ،چې دغه کامرې به په لنډ وخت کې د ښـار پـه ټولـو برخو کې نصـب شي او له امنيتي ځواکونو سره به د ښـار د امنيتي وضعيت پـه کنټـرول او د جرمونـو په مخنيوي کې مرسـته وکړي: ((په خوست کې مخکې پنځه کامرې نصب شـوې وې ،چې هغو ډېر ښـه تاثير کـړی و، دا اوس لس کامرې نـورې هم نصب شـوې امید دي ،چې د امنيت په راوستلو کې به ډېـر مثبت تاثير وکړي.))

د امنيـه قوماندانۍ جنايي مدير محمد صابر صابري هم وويل: د خوست ښار په شپږو دروازو او مهمو نقطو کې دغه کامرې لګول کېـږي ، ترڅو ښـه امنيت تامين شي او د جنايـي جرمونـو کچه ورسره ټيټـه شي: ((د ښار کامرو د نصبولو له وجې به انشاءالله په ښـار کې د جنايي پېښو ګراف را ټيټ شي او امنيتـي ځواکونو ته به د جنايي مجرمينو په نيولو کې ډېره زياته اسانتيا رامنځته شي.))

بل لورته د دې ولايت اوسيدونکي هم وايي: په دې وروستيو کې په ښار کې جنايي پېښې زياتې شوې وې، چـې له دې وروسـته به يې



کچـه ټيټـه شي.د خوسـت دوه تنه اوسـېدونکي خيال محمد او محمد حسن ارمان د حکومت له لوري د امنيتي کامرو لګول غوره کار بـولي او زياتـوي ،چې د دې کامرو په نصبولو سره به ښاريان ډاډه او د جنايـي جرمونو ګراف به ټيټ کړي:((دغه کامرې ډېرې ښې شـوې ،چې ځای پر ځای په چوکونو ولګېـږي، چې څومره ډېرې ولګېږي دومره ښـې دي؛ د جنايي جرمونو پـه مخنيوي کې پوره رول لـري مخه يې نيسي او غـلاوې څوک نـه شي کولی.)) (( دا يو ډېر ښـه اقـدام دی دا به د جنايي جرمونـو په کمېدو کې زموږ امنيتي ځواکونو سره بشپړه همکاري وکړي؛ موږ له مسئولينو دا هيله لرو، چې دا کامرې نورې هم ولګوي ترڅو د جنايي پېښو کچه صفـر تـه ورسـېږي.))د يادونې وړ ده چـې ډېر خلک د ټکنالوژۍ اوسني عصر ته په کتو له مسئولو حکومتي ادارو غواړي چې، په خدماتو کې د اسـانتيا په موخه دې، له عصري ټکنالوژۍ کار واخلي.

**بصير ياد**

### له بېوزلو سره مرسته...

تـر بلـې پـه داسـې بڼـه دوديـږي، چـې خلـک د بيلابيلو ګـران بيو خوراکي توکـو پـه برابرولـو او اخيسـتلو او مصرفولو کې، دخپلـو مالونو په اسراف او تبذيـر کې، سـيالۍ او وياړ کوي؛ پـه ځانګړي توګه، د خوښـۍ او واده په مراسمو کـې يو زيات شـمير خلک د ډوډۍ د خوړلـو او د ... د غوړ نيولو لپاره، لوکسـو او مجللو هوټلونو ته دعوتوي. ميلمنو ته د خوړو د بيلابيلو ډولونو د چمتـو کولو لپاره زياتې پيسې ځانګړې کوي او پـرې وياړي، د پيسـو د کموالي په صورت کې، خپل باغ يا کـور په ګرو ورکوي او يا يې خرڅـوي يا داچې له خپلو ملګرو څخه پيسـې په پوراخـلي، چې دغه ټولې چـارې، د بيوزلۍ، اقتصادي سـتونزو او د وږيتـوب په دوام کـې، مهـم رول لـري او کچـه يـې زياتـوي. نو پرمـوږ لا زمـه ده، چې په ټولـو چاروکې، په ځانګړې توګـه د نااړينـو خـوړو د چمتو کولـو په برخه کې له اسراف څخه په جدي توګه ډډه وکړو او په بدل کې يې، هغه پيسـې، چې د خوړو د مصرفولو او نـورو بدعتي چاروکـې لګـوو، د بيوزلو د مړولـو او يـا د خپل ځان او اولادونـو د راتلونکـي ژوندانه د جوړولو په برخه کې يـې ولګوو دا بـه ډيره غوره وي.

**مأخذ او سرچينه:**

(دخـوړو امنيـت اوتغذيه د اسـلام دسـپېڅلي ديـن په رڼاکـې) کتاب – کابل ۱۳۹۷ کال منی.

### د مهاجرت لاملونه...

په نا قانونه ډول تېرېدل: د مهاجرينـو قاچـاق لزوماً پـه ناقانونه توګـه يو هېواد ته داخليدل يا سفر دي، خو د انسـان قاچـاق کېدای شي قانوني يا ناقانوني وي.

**سرچينې:**

ـ جوانمـرد دکتر بهـروز، د پولو هغه خوا سازمان شوي جرمونـه، خپرندوی، سرور سعادت.

ـ حبيبی، ثابت خان و بابک، نوراغـا، ۱۳۹۳، سـازمان شـويو جرمونو سره مبارزه، خپرنـدوی، کابـل د کورنيو چارو وزارت مطبعه.

ـ د عدليـې وزارت۱۳۹۵، د مهاجرينـو او د انسـان د قاچاق په وړاندي د مبارزې قانـون، رسـمی جريـده نمـبر۱۲۴۴، کابـل دولتـی مطبعه

ـ د عدليـې وزارت ۱۳۹۶ د جزا کـود رسـمی جريده، شـماره۱۲۶۰ ، کابل، دولتی مطبعه.

### مصنوعي ځيرکتيا...

ځيرکتيا اړوند اپليکېشـنونه د هغو خطرونو له مخې چې کاروونکو ته يې ښايي پېښ کړي، ډلبنـدي شي.د بېلګې پـه توګـه هغـه ويډيويي ګېمونه بـه چـې مصنوعي ذکاوت پکـې کارېـږي، پر داسې فلترونو سنبال شي چې سپم برېښـناليکونه تشخيص کـړي او د خطـر مخـه ونيسي.لـه ټولـو خطرناک پروګرامونـه هغـه دي چې د خلکـو د بـاور او اعتبار امتيـاز اټکلولی شـی او په کـې تاثيـر لري، چـې ايا د کورونو او نورو شيانو لپاره پور اخيستی شي که څنګه؟ دا وړ پروګرامونـه بـه لـه سـختو قوانينـو سره مخامخ وي.دغـه قوانين بريتانيا کې نه پـلي کېږي. ټاکل شـوې، چـې بريتانيـا به پـه مارچ مياشـت کـې د مصنوعـي ځيرکتيـا ټکنالـوژۍ اړوند خپـل پروګـرام او ليدلوری اعلان کړي.دغه هېواد کې د مصنوعي ځيرکتيا د مقرراتو د تنظيم لپاره د يوه ځانګړي ارګان د رامنځتـه کېـدو طرحـه رد شـوې او هوکړه پـر دې شـوې چې اوسـني موجود ارګانونه به ټول دغه ټکنالوژي څاري، خو مېرمن وسـتاګر وايي: د مصنوعي ځيرکتيا څار او قانوني کېدل بايـد نړيواله چـاره وي او دا چې پـه دې تـړاو بايد د دولتونـو ترمنـځ همفکري او همکاري منـځ ته راشي. امريـکا کـې هـم قانـون جوړوونکو دې ته اندېښـنه ښودلې چې ايا اوسني قوانين بـه دا ټکنالـوژۍ کنټرول کـړای شي که څنګـه؟ بله خوا چين بيـا پتيپلې چې له کمپنيو وغـواړي، هر ځای چـې د مصنوعـي ځيرکتيـا الګوريتمونـه کاروي، خپل کاروونکـي دې پـرې خبر کړي.د مصنوعي ځيرکتيا له کبله کومې دنـدې ډېرې په خطر کې دي؟

د مصنوعيځيرکتيا ټکنالوژي دا وړتيـا لـري چې درسـته نـړۍ کـې کار، بوختيـا او دندې لـه لـوړو ژورو سره مخامـخ کړي او دا پوښـتنه يـې هم را پيـدا کړې چې د دې ټکنالـوژۍ پـه عامېدو سره کومـې دندې لـه منځه تللی شي.د ګلډمن ساکس په نامه د پانګونـې بانک خپل وروسـتي راپور کـې ويلي چې مصنوعي ځيرکتيا ښايي د نـړۍ لروبر کـې تر ۳۰۰ ميليونو پورې د بشپړ وخت دندې لـه منځه يوسي، ځکه ډېر کارونه به په اتوماتيک ډول تـرسره کېـږي.دا پـه اروپـا او امريـکا کـې پر کار د ټولـو بوختو کسـانو څلورمه برخـه جوړوي.په دوی کـې دفـتري، حقوقي، معـماري او مديريتي دندې له لا ډېر خطر سره مخ دي، خو په ريوټ کې د مصنوعي ځيرکتيا له کبله کاروباريانو تـه د ګټې يادونه هم شـوې او ويـل شـوي چـې له دې ټکنالـوژۍ سره به نړۍ کې د سـړي سر عوايد ۷ سـلنه لـوړ شي.د طـب او علومو ځينې برخې ان سر له اوسـه د مصنوعـي ځيرکتيا له ګټو برخمنې شـوې دي.ډاکتران دا ټکنالوژي د تيونو سرطان د تشـخيص لپـاره کاروي او څېړونکـي تـرې د نويو انتيبيوتيکـو پـه توليـد او جوړولو کې ګټه اخلي.

### د خبرو له لارې ...

په ورته وخت کې د کورنيو چارو وزارت سرپرسـت په دې کتنـه کې وويـل ، چې د نړيوالـې سـولې تامين، د خبرو له لارې د مسايلو حل او بـې پرېتـوب د ملګـرو ملتونـو مسـئوليت دی او لـه افغانانـو سره هـم بايد دې برخه کـې لازم ګامونه اوچت شي.نوموړي افغانان د نړيوالـې ټولنـې د کورنۍ مسـئول غـړي ياد کـړل او ټينګار يې وکړ، چې له پامه غورځـول يې نبايـد مطرح وي. د کورنيو چارو وزارت سرپرسـت زياته کړه، چې د يو منظـم او متحد هيواد په توګه پـه هره سـاحه کې د بيارغونـې چارې روانې دي. د يادونـې وړ ده، چې خليفه سراج الديـن حقـاني په دې کتنـه کې له سـينيري اوغلو څخه له نشه يي توکو سره د مبارزې او د بديل کښـت په برخه کې له افغان لوري سره د مرستې غوښتنه وکړه.

### ملګري ملتونه دې ...

کـې د اوبـو د کمښـت د بحران پـه حل کې مرسـته وکړي.بلـه خـوا د يوناما د مرکـزي زون د دفـتر مشر انيـت ليت ويـلي، چې دغه دفتر غـواړي د پلازمېنې په بېلابېلـو برخو کـې پروژې پلـې کـړي.ده زياتـه کړه: يوناما د ښـې حکومتولۍ او د خلکو د ټولنيزو ستونزو د حل په برخه کې هم غونډې کوي.د يادونـې وړ ده، چې پـه کابـل او پـه ځانګړې توګـه د پلازمېنې په لوېديځ کې د څښاک د اوبو کمښت د ښاريانو په وړاندې جدي ننګونې دي.

### د اوبو او انرژۍ...

کـړه او خپلې سـتونزې او غوښـتنې يـې ورسره سره شريکـې کړې.همدارنګـه د اوبو او انرژي سرپرسـت وزيـر د دوی سـتونزو او غوښتنو ته د شـته امکاناتو پـه پـام کـې نيولـو سره د رسيدګي ډاډ ورکړ.

### په يوولسو ولايتونو کې...

په ورته وخت کې يوشـمېر کورنۍ د پوليو ضد واکسين کمپاين پيلېـدو څخه هرکلي کوي. د کابل اوسـېدونکی شـېرمحمد وايـي: (( نـن واکسـيناتوران راغـلي چې تـر پنځـو کلونـو کمعمره ماشـومان واکسـېن شي او مـوږ غواړو چې ماشـومان مـو واکسـين شي او کورنۍ هـم بايـد خپل ماشـومان واکسـين کړي.))پوليو يوه سـاري ناروغـي ده چـې د درملنې وړ نهده، خو يوازې يې د واکسـين له لارې مخه نيـول کېـداي شي. د عامې روغتيـا وزارت د معلوماتو لـه مخـې ۲۰۲۳ کال هېواد کـې د ماشـومانو د ګـوزڼ ۶ مثبتې پېښـې ثبت شـوي چې ټولې يـې ننګرهار کې دي.تېـر کال بيـا هېواد کې يـوازې دوه د پوليـو مثبتې پېښې ثبت شوې وې چې يوه يې کونړ او بله يې هم پکتيا کـې وه. د يادونـې وړ ده چې افغانسـتان او پاکستان يوازينـي هېوادونه دي چې اوس هم په کې د ماشـومانو د ګـوزڼ يا پوليـو ناروغۍ لهمنځه نهده تللې.

### مزارشريف ښار کې...

کې جـدي اړتيـاوې په پام کـې نيـولي دي. مـوږ هوډ لرو ،چې په ښـار کې ټولې سـتونزې حـل کـړو چې د ښـاروالۍ عوايـد بـه لوړ شي.پـه ورته وخـت کې يو شمېر ښـاريان د مزارشريف ښار د بيارغونې په برخه کې د ښـاروالۍ د کړنـو هرکلی کـوي او وايي: ښـاريان د معياري سړکونو، کثافاتو او پارکونـو او شـنو ځايونو د نشتوالي له ستونزو سره لاس او ګرېـوان دي او غوښـتنه کوي، چـې په دې برخه کې دې ورته پاملرنه زياته شي.

### هلمند کې د هرات...

«۹۱۲۷۸۱۰» افغانـۍ ټولې شـوي، چې ډېـر ژر به يې دغـه کمېټـه د هـرات او بادغيـس زلزلهځپليـو تـه ورسوي.ده زياته کړه ،چې د هلمند يوشمېر سوداګرو هم په جلا توګـه زلزلهځپليو ته ۵،۵ ميليونـه افغانۍ مرسـته ټوله کـړې ،چې په وينا يې: هغه به هم له دې کمېټې سره پـه همغـږۍ زلزلهځپليو ته ورسـوي.د هراتزلزلهځپليو سره دغه مرستې داسې مهال دي ،چې د تېرې تلې مياشتې پـه ۱۵مه دغـه ولايت يوې زوروړلـې زلزلـې ولړزاوه چـې له املـه يې سـلګونه کسان مړه او ټپيان شول.

### په هيواد کې د برښنا ...

د افغانستان برښنا شرکت به د موضوع اړوند مشخصاتو له مخې د جنس د کيفيت او قيمت په پـام کې نيولو سره په شرايطـو برابره توافقنامه جوړه کـړي او په اړه به يې پـه راتلونکـې غونـډه کې بحـث وشي او د وروسـتي تصميم لپاره به نهايي شي.

### کندهار او زابل کې...

د زابـل د کليـو د بيارغونې او پراختيارئيـس مولـوي حکمـت اللـه رهـبر باختر اژانس ته وويـل، چې يادې پروژې د يو نيسـف په مالي ملاتړ د ارغنداب ولسـوالۍ پـه کرتو، شـال کـوټ او حـضرت عمـر سـيمو په ۳ ښـوونځيو کـې د ۸ ميليونه ۵۸۸ زره ۸۶۶ افغانيـو پـه لګښـت پيـل شـوې دي، چـې چارې به يـې په نږدې راتلونکې کې بشـپړې شي. د يادونې وړ ده، چې د يادو شـبکو په جوړېـدو سره به ښوونځيو کې د پاکو اوبو د نه شتون ستونزې حل شي او زده کوونکي بـه پاکو اوبو ته لاسرسي پيدا کړي.

### په ننګرهار کې خلک...

د کمښـت له امله په راکړه ورکـړه کې عـام خلک او صرافـان لـه ګڼو سـتونزو سره مـخ دي.نوموړی وايي: (( مـوږ د زړو بانکنوټونو له مشـکل سره مخ يو، چې کله موږ ته مشـتريان راځي مـوږ نـه افغانـۍ غـواړي موږ ورتـه زاړه بانکنوټونه ورکـوو، ځکه موږ ته بازار کـې همـدا زاړه بانکنوټونه راځي، نو مشـتريان يې موږ نـه اخلي، موږ لـه دولت نه تقاضا لرو، چې موږ ته نوي بانکنوټونه توزيع کړي، تر څو مشـتريانو ته يې ورکړو او مـوږ او مشـتريان د دې بانکنوټونو له مشکلاتو څخه خلاص شـو.))د افغانسـتان بانـک ويانـد حسـيب الله نوري وايي: د دې سـتونزې د حـل لپاره لاس په کار شـوي او د نويو بانکنوټونو د ويش پروسـه د يو معلوم طزالعمل پـر اسـاس د معقولـو پولي سياسـتونو په پام کـې نيولو سره او د بـازار اړتيا ته په پام کې نيولـو سره ترسره کېږي. نوموړی وايي: (( د افغانستان بانـک لـه لوري د مندرسـو بانکنوټونـو د راټولولو او په مقابل کې د نويو بانکنوټونو د تزريـق پروسـه روانـه ده،عمـلاً دا پروسـه په ټول هيواد کې جريـان لري،هغه درانـه هيـوادوال چـې د لسګون، شـلګون، سلګون، پنځه سـوه ګـون او زرګون مندرس بانکنوټونه لري،دوی کولـی شي چې د افغانسـتان بانک اويا هم سـوداګريزو بانکونوتـه پـه ورتګ سره خپـل منـدرس بانکنوټونـه وروړي او پـه مقابل کې نوي بانکنوټونه تر لاسـه کړي)) د مسـئولينو په خـبره د زړو بانکنوټونو څخـه خلک په داسې حال کې شکايت کوي، چې عام خلک د پيسو ساتنې تـه هيڅ پاملرنه نـه کوي او ډېر ژر زړيږي.

**سميع الله مبارز**

Hewad Daily

سه‌شنبه دربیع الثاني ۱۰ مه ۱۴۴۵ ق کال د ۱۴۰۲ ل کال د لړم ۲ یمه د 2023 م کال داکتوبر ۲۴ مه

د ورځپاڼو رئیس: م محمد ابراهیم نبیل
موبایل: ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
آمر او مسئول مدیر: عطاء الله مبارز
موبایل: ۰۷۷۴۳۱۸۹۰۲
مسئول سکرتر: شېرمحمد نظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت نوي ودانۍ
د اړیکو شمېره: س۲۵۲۶۳۱۰ - ۰۲۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیواد ورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې وېب سایټ له لارې هم کتلی شئ
وېب سایټ: www.hewaddaily.com
د شکایاتو اوتوزیع څانګه:
۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳-۰۲۰۲۱۰۶۹

## د کندهار او ارزګان مسئولین:

# په ټــول توان د بهرنیو اســــعارو د کاروني مخه نیسو

د هیواد د دوو سوېلي ولایتونو کندهار او ارزګان محلي مسئولین وایي، چې یادو ولایتونو کې د افغانۍ دودولو ته جدي دي او د سر په بیه به د بهرنیو اسعارو مخه نیسي. د یادو ولایتونو مسئولینو ورمه ورځ په یوې جوړې شوې غونډه کې وویل: اجازه نه‌ورکوي، چې خوک دغو ولایتونو کې بهرني اسعار وکاروي. په دې غونډه کې د کندهار مرستیال والي حیات‌الله مبارک ویلي، چې د بهرنیو اسعارو مخنیوي د حکومت او ولس دنده ده او



په وینا یې، مخه یې باید ونیول شي. نوموړي ډاډ ورکړی، چې د بهرنیو اسعارو د مخنیوي لپاره حکومت په کافي اندازه افغاني بانکنوټونه لري، چې کولای شي د بازار اړتیا پوره کړي. په ورته مهال د ارزګان والي محمدعلي جان‌احمد بیا دې غونډه کې وویل: هغه کسان چې په بهرنیو اسعارو راکړه ورکړه کوي، مالونه به یې ضبط شي. د نوموړي په وینا، دې ولایت کې په بشپړه توګه د بهرنیو اسعارو راکړه ورکړه بنده ده. د یادو ولایتونو چارواکي داسې مهال د بهرنیو اسعارو د مخنیوي خبره کوي، چې څو میاشتې وړاندې د افغانستان بانک په ټول هیواد کې د بهرنیو اسعارو پر راکړې ورکړې بندیز ولګاوه.

## د کډوالۍ نړیوال سازمان د هرات زلزله ځپلو سره مشورتي غونډې وکړې

د کډوالۍ نړیوال سازمان وایي: د دوی سلاکارانو د هرات په زلزله ځپلو سیمو کې له یو شمېر نارینه وو، ښځو او ماشومانو سره له زلزلې وروسته وضعیت په اړه مشورتي غونډې جوړې کړې دي. په یوه ویډیو کې چې یاد سازمان ورمه ورځ پر خپله ټویټر پاڼه خپره کړې، د دې اداري یو سلاکار عبدالولي وایي، زلزلې، سېلابونه، جګړې او اوراخیستنې په هر ځای کې خلک له ذهني او روحي پریشانیو سره مخ کوي. په همدې حال کې د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ اداره، اوچا وایي، د هرات زلزلې پر ۵۴ زره تنو اغېزه کړې.

## بهرنۍ لنډخبرونه

### غزې ترانګې ته د ننوتلو ناکامه هڅه؛

## د حماس بریدونو کې ۱۶ صهیونیست پوځیان وژل شوي دي



د حماس اسلامي غورځنګ پوځي څانګې ((القسام لبوا)) خبر ورکړی، چې وسله والو یې غزې ترانګې ته د اسرائیلي اشغالګرو پوځیانو د ننوتلو هڅه یوځل بیا ناکامه کړې او د غزې په ختیځ کې د ((خان یونس)) ښار په څنډو کې یې دوه اسرائیلي ټانکونه ویشتلي، چې په پایله کې یې ۱۶ صهیونېستان وژل شوي او لسګونه نور ټپیان دي. د اسرائیلي پوځ ویاند ((دانیال هجري)) بیا خبر ورکړی، چې غزې ترانګې ته د ننوتلو پر مهال یې ځواکونو ته مرګ ژوبله اوښتې، خو د کره شمېرې په هکله یې څه نه دي ویلي. د صهیونیستي پوځ ویاند زیاته کړې ده، چې د اسرائیلو پوځي چارواکو له خپلو مصري چارواکو سره تماس نیولی او د مصري پوځ پر یوه پوسته یې د توغندي د لګېدلو له امله بښنه غوښتې ده. په همدې اړه د اسرائیلو پوځي راډیو اعلان کړی، چې له غزې څخه د کسوفیم ښارګوټي ته څېرمه د ټانک ضد توغندي په برید کې د پوځ څو تنه عسکر ټپیان شوي دي. د اسرائیلو پوځ په ډاګه کړې، چې د اسرائیلو پوځي وسایط، چې د کسوفیم په شاوخوا کې پرې برید وشو غزې ترانګې ته یې د ننوتلو هڅه کوله. له دې مخکې د ((العربیه)) خبریال راپور ورکړی و، چې غزې ته نږدې د کسوفیم ښار په شاوخوا کې د القسام مجاهدیو او صهیونیستي پوځ ترمنځ خونړۍ نښتې روانې دي.

## غزه کې هره ورځ نږدې ۳۰۰ فلسطینیان شهیدانېږي



د باختر اطلاعاتي اژانس د محاسبې له مخې غزه کې د اسرائیلي ځواکونو او حماس وسله والو ترمنځ روانې جګړې کې هره ورځ په منځنۍ ډول ۲۹۰ تنه فلسطینیان شهیدان شوي او نږدې ۹۰۰ تنه ټپیان شوي دي. محاسبه ښیي، چې هلته د جګړې له امله بې ځایه شوي خلک په ۳۰ ساعتونو کې یو ځل خوراکي توکو ته لاسرسي لري او د څه باندې یو میلیون بې ځایه شویو له ډلې تر نیمايي زیات یې سرپناه نه لري. د وروستیو راپورونو له مخې د فلسطینیانو د وژنې دغه لړۍ لا هم روانه ده او تازه د امریکا، انګلستان، کاناډا او یو شمېر نورو هیوادونو مشرانو د یوې ګډې اعلامیې په خپرولو سره له اسرائیلي پوځ څخه خپل ملاتړ اعلان کړی او ویلي یې دي، چې له هرې ممکنې لارې به د اسرائیلیانو ملاتړ ته دوام ورکړي. بله خوا په ګڼو اسلامي هیوادونو کې د فلسطینیانو پر ملاتړ لاریونونه روان دي، هغه څه چې شنونکي یې بې ګټې بولي او له اسلامي هیوادونو څخه غواړي، چې د کلکو بندیزونو او ډیپلوماتیکو فشارونو له لارې اسرائیل مات او فلسطینیان له روانو ظلمونو څخه خلاص کړي.

## عمران خان او محمود قریشي د حکومتي رازونو پر افشا کولو تورن شول

د پاکستان یوې محکمې پرون د دې هیواد پخواني لومړي وزیر عمران خان او د بهرنیو چارو پخواني وزیر شاه محمود قریشي د دولتي رازونو پر سپړلو او افشا کولو تورن کړي دي. رویټرز خبري اژانس د پاکستان تحریک انصاف ګوند په حواله راپور ورکړی چې دغه دوسیه به د جمعې په ورځ پیل شي. د پاکستان د تحریک انصاف ګوند دا تور په راتلونکو ټاکنو کې پر عمران خان یو بل ګوزار ګڼي. عمران خان د دولتي ډالیو د پلور په تور په درې کاله بند محکوم او د اګست له پنځمې نېټې راهیسې په بند کې دي او د دغه محکومیت په پایله کې، د پاکستان د ټاکنو کمېسیون، عمران خان په ټاکنو کې له ګډون تر پنځو کلونو محروم کړی دی.

## په هیواد کې د برښنا میترونو د جوړولو کارخونه جوړېږي



د چارو اداري لوی ریاست د پانګونې د آسانتیا ریاست له نور شرکت سره د برښنا مېترونو فابریکې د جوړولو په اړه د همغږۍ غونډه کړې ده. په دې غونډه کې د پانګونې د آسانتیا ریاست مرستیال انجنیر احمد ضیاء خالد ویلي، چې افغان حکومت د ولس د ښېرازۍ لپاره کار کوي او هڅه کوي، چې پانګوال ته په هیواد کې د پانګونې په برخه کې آسانتیاوې رامنځته کړي. په غونډه کې پرېکړه شوې، چې **۵مخ**

## هلمند کې د هرات او بادغیس زلزله‌ځپلیو ته څه باندې نهه میلیونه افغانۍ مرسته ټوله شوې

هلمند کې د هرات او بادغیس زلزله‌ځپلیو سره د مرستې په داطلاعاتو او فرهنګ ریاست مسئولین وایي، چې دغه



موخه څه باندې نهه میلیونه افغانۍ ټولې شوې دي. د هلمند نغدي مرستې د یوې جوړې شوې کمېټې له‌خوا په مرکز لښکرګاه ښار او ولسوالیو کې راټولې شوې دي. د دغه ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست مرستیال محمدقاسم ریاض وایي، چې د مرستو راټولولو په دې کمېټه کې د علماوو شورا، د حکومتو د څارنې او نظارت پر استازیو او د اطلاعاتو او فرهنګ پر رئیسانو سربېره یو شمېر نورو چارواکو هم ګډون درلود. ریاض زیاتوي: د مرستو ټولولو په دې کمپاین کې **۵مخ**

## تېره میاشت لسګونو بهرنیو سیلانیانو غزني ته سفر کړی

د غزني د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست مسئولین وایي په تېره یوه میاشت کې د غزني له تاریخي آبدوڅخه نږدې ۸۰ بهرنیو سیلانیانو لیدنه کړې ده. د غزني د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس حمیدالله نثار ویلي، چې په تېره یوه میاشت کې دغه ولایت ته ۷۷ بهرني سیلانیان چې د امریکا، کاناډا، برازیل، چین، روسیې، پاکستان، ایران، هند او یو شمېر نورو اروپایي هیوادونو غړي وو ورغلي او د دغه ولایت له تاریخي آبدو، لرغونو سیمو او طبیعي ښکلاوو څخه یې لیدنه کړې ده. د غزني د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست مسئولین وایي، چې له بهرنیو سیلانیانو سره په دغه ولایت کې د یاد ریاست د ګرځندوي او افغانتور شرکت کارکوونکي سیمو ته ځي او د غزني د تاریخي آبدو، لرغونو سیمو او طبیعي ښکلاوو په هکله له هغوی سره معلومات شریکوي. د غزني ولایتي چارواکي وایي، دغه ولایت ته پرون هم د ارجنتیان او آسپانیا هیوادونو څخه د ۸ ښځینه وو بهرنیوسیلانیانو په ګډون ۱۵ بهرني سیلانیان ورغلي دي.

## کندهار او زابل کې د اوبو رسولو شبکې جوړېږي

د کندهار ښاروالۍ مسئولین وایي، چې د یاد ولایت په سپین بولدک ولسوالۍ کې د یوویشت اعشاریه نهه پنځوس میلیونه افغانیو په لګښت د اوبو رسولو د دوو شبکو د جوړېدو چارې پیل شوې دي. د سپین بولدک ښاروال قاري مسافر د باختر آژانس خبریال ته ویلي، چې د یادې شبکې په جوړېدو سره به ۱۳ زره کورنیو ته د څښاک پاکې اوبه برابرې شي. د یادونې وړ ده، چې په یادو پروژو کې شاوخوا ۷۰۰ کسانو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه هم برابره شوې ده. همدارنګه: د زابل د کلیو د بیا رغونې او پراختیا ریاست مسئولین وایي، چې د یاد ولایت د ارغنداب ولسوالۍ په دریو سوونځیو کې د اوبو رسولو د دریو شبکو چارې د څه باندې ۸ میلیونه افغانیو په لګښت پیل شوې دي. د مسئولینو په خبره یاده پروژه د کلیو د بیا رغونې او پراختیا ریاست ترچتر او څارنې لاندې د یونیسف د نړیوالې اداري په مالي ملاتړ او د HRDA موسسې په تخنیکي همکارۍ د هیواد ساختماني شرکت له لوري پلي کېږي. **۵مخ**



## په ننګرهار کې خلک له زړو بانکنوټونو شکایت کوي

په ننګرهار کې افغاني بانکنوټونه دومره زاړه شوي، چې نور له استفادې وتلي، د خلکو په خبره، د افغاني بانکنوټونو زړښت او نه چلښت ګڼې ستونزې را ولاړې کړې. د جلال اباد ښار یو اوسېدونکی نصیر احمد وایي: افغاني بانکنوټونه دومره زاړه شوي، چې نور له کاره لویدلي. د نوموړي په خبره، د بانکونو او هټیوالو له خوا زاړه بانکنوټونه ورکول کېږي، خو کله یې چې بازار ته د توکو د اخیستو لپاره هټیوالو ته ورکوي؛ بېرته یې نه اخلي. نصیراحمد زیاتوي: (( مور چې زړې افغانۍ چاته ورکوو، زړې افغانۍ رانه څوک نه اخلي. دولت باید داسې کار وکړي، چې دغه زړې افغانۍ له مور نه ټولې کړي.)) بله خوا، بیا صرافان او هټیوال په بازار کې د افغانۍ له کمښته شکایت کوي او له حکومته غواړي چې په بازار کې نوي افغانۍ د چلښت لپاره راوباسي. د جلال اباد ښار د صرافانو اتحادیې یو غړی شایق وایي: د نویو افغانیو **۵مخ**

## بادغیس کې د حلقوي سړک د یوې برخې کار پیل شو

په بادغیس کې، د افغانستان د حلقوي سړک د یوې برخې کار پیل شو. د ټولګټو چارو وزارت ویلي، دغه حلقوي سړک چې ۳۰ کیلومتره اوږدوالي لري، د ټولګټو وزارت او د خپلواک کاظمي د ودانیز او سړک جوړونې شرکت ترمنځ د معدن د استخراج په بدل کې قرارداد شوی دی، چې دا مهال یې چارې روانې دي. ویل شوي چې د دې پروژې په بشپړېدو سره به د هیواد لوېدیځ ولایتونه له شمالي ولایتونو سره و نښلول شي او د سوداګریزو توکو په لېږد رالېږد کې به د پام وړ اسانتیاوې رامنځته شي.

